## د کنفرانس د علمي- څېړنیزو مقالو لیکلارښود

له درنو استادانو او ښاغلیو څېړونکیو د مقالې د لیکنې او تدوین پر مهال د لاندې ټکیو د پامنیوي هیله کېږي. د یادولو وړ ده چې راستول شوې مقالې چې له لاندې لارښود سره سمې نه وي، د خپرېدا وړ نه دي.

1. علمي مقاله باید د لیکوال تازه اثر وي او بل ځای خپره شوې نه وي.
2. علمي مقاله باید له هر ډول ادبي غلا او انتحال څخه پاکه وي.
3. د علمي مقالې د لیکنې سبک باید چې معیاری او له هر ډول املایي او انشایي تېروتنو پاک وي.
4. په مقاله کې پکار ده چې له معتبرو علمي سرچینو ګټنه وشي.
5. علمي- څېړنیزې مقالې باید لنډیز، بنسټي مفاهیم، سریزه، د مسألې بیان، د څېړنې پوښتنې، دڅېړنې فرضیه، د څېړنې مخینه، څېړندود، ډیټا، د ډیټا تحلیل، څېړنموندنې، مناقشه، پایله او سرچینې ولري.
6. د علمي مقالې پښتو، دري او انګلیسي لنډیز د ۲۵۰ کلمو څخه زیات نه وي.
7. د علمي مقالې بنسټي اصطلاحات د ۵ او ۷ تر منځ وي.
8. د علمي مقالې حجم باید چې له لسو زرو (۱۰۰۰۰) کلمو زیات نه وي.
9. د پښتو او دري مقالو د خط بڼه Bahij Zar او د انګلیسي مقالو د خط بڼه Times New Roman وي.
10. د مقالې د عنوان اندازه : ۱۴ بولډ، د مقالې د اصـــلي عنوانونو اندازه ۱۲ بولډ، څنډني عنوانونه ۱۲ نارمل او د مقالې د متن اندازه هم ۱۲ نارمل وي.
11. د جدولونو و شکلونو د لیک اندازه د مقالې د اصلي خط له اندازې دوه برابره کوچني وي.
12. د سرچینو د لیک اندازه باید چې د اصلي متن له اندازې دوه برابره کوچنی وي.
13. د لمنلیکونو د خط کچه باید چې د مقالې د لیک له اصلي اندازې دوه برابره کوچنی وي.
14. د علمي مقالو کې د سرچینو فهرســـت او د دننیو سرچینو ښـــودانه د امریکا د روانپوهنې انجمن (APA) له طریقې ګټنه (استفاده) کېږي. په نه پامنیوي یې مقاله له خپرېدا پاتې کېږی.
15. جدولونه باید د (APA) په معیاری یانې درې خطي بڼه رسم شي.
16. د چاپ له پلوه ټیټ کیفیته ګرافونه د منلو نه دي، ممکن له امله یې مقاله له خپراوي پاتې شي. له ویب پاڼو اخیستل شوي ټیټ کیفیته ګرافونه هم نه منل کېږي په دې اړه سپارښته کېږي چې ګرافونه د اصـلي سرچینې په ښـودا سره بیا جوړ کړای شي.
17. ګرافونه او جدولونه باید د ایډیټ او تصحیح وړتیا ولري.
18. د صـفحې اندازه په ورډ کې ٦،۵ اینچه سـور او ۹،۵ اینچه اوږدوالی ولري، پورتنې، ښـکتنې، ښـي او کیڼې حاشـیې یې ۰،۷۹ اینچه وي.
19. د مقالې د منځپانګې مسوولیت د لیکوال پر غاړه دی، د کنفرانس علمي کمیټې ته نه ورګرځي.
20. د کنفرانس علمي کمیټه د مقالو په ایډیټ او سمون کې آزاد دی.